USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# کرهنه

جون ۲۰۱۱

## شالید
کرهنه په کلیوالو سیمو کې د ۸۰ سلنه خلکو د ژوندانه او معیشت اصلي منبع شمېرل کېږي او د ملي غذایي مصوؤنیت او اقتصادی ودې لپاره یو ضروري سکټور دی.

## د خپروني تصویر
د متحده ایالاتو د حکومت کرهنیزه مرسته په افغانستان کې د کرهنیزو کارونو پر ایجادولو او پر دې چې د افغانانو عواید او پرحکومت باندې یې اعتماد زیات شي تمرکز کوي. د USAID پروګروامونه تولید ښه کوي، کرهنیزه سوداګرۍ ته تولید زیاتوي، د ارزښت ځنځیرونه تقویه کوي، د اوبو د بهیر او د اوبولګولو زیربناوې احیا کوي او د کرهني، اوبولګولو او مالدارۍ وزرات ظرفیت لوړوي تر څو په موثره توګه خدمات عرضه کړي.

د USAID، افغان دولت او نورو د متحده ایالاتو ادارو او ډونرانو تر منځ همغږي مرسته کړېده تر څو د ترياکو کر کم شي. اوسمهال، ۲۰ ولایتونو کې کوکنار نه کرل کیږي. خپله USAID او د هغه نور ملګري د مشروع بوټو کر ته وده ورکوي او هغو بوټو ته مرسته کوي چې د عایداتو تولید او د غذایي مصوؤنیت لپاره ضروري دي. د ارزښت په ځنځیر کې تولو ستونزو ته د تولید نه نیولې بیا تر پروسس او بازارموندني او خرڅلاوه پورې، USAID مرسته کوي. دغه راز USAID د سیستمونو په وده کې کار کوي چې دوامداره پرمختګ لپاره ضروري دي لکه پورونه، څېړنه، تولید او کرهنیزه زده کړه. د پټیو څخه بازار ته د لارو بهبود او د بازارونو د زیربناوو جوړول هم په لومړیتوبونو کې دي.

## د افغانستان د کرهني تاریخي ځواک بیا ژوندی کول
د افغانستان بادام، انار، پسته، انګور او زردآلو د عالي شهرت نه برخه مني دي. د USAID په مرسته د عالي کیفیت میوې او خسته باب د ۲۰۰۲ کال نه را پدېخوا د جګړو سره سره زیات شویدي.

په FY ۲۰۱۰ کې، USAID ۶۳۳۰۰۰ بزرګرو ته د ښه بوټو د کرهني، مالي مدیریت او سوداګریزو مهارتونو په برخه کې زده کړه ورکړه. دغه راز USAID د افغان سوداګرو څخه ملاتړ کوي چې به نویو بازارونو کې د سوداګرۍ فرصتونه لټوي. په FY ۲۰۱۰ کې تازه انګور د یخچالي موټرونو په واسطه د ځمکې له لارې ډیلي ته ولیږدول شول او انار او ممیز کاناډا، دوبی، آلمان، هالند، هندوستان او تاجکستان ته صادر شول. د متحده ایالاتو د حکومت د رغندو مرستو په نتیجه کې د ۱۴ ملیون ډالرو څخه زیات صادراتي خرڅلاو په ۲۰۱۰ کې صورت وموند.

چون اکثره افغانان د کرهني په څنګ کې څاروي ساتي، USAID وترنرانو ته زده کړه ورکړې. هغوي بیا په سیمو کې ۸۵۰ وترنران تربیه کړې چې ۴۸ ملیونه واکسینونه یې تطبیق کړي او نور دوایي یې هم توزیع کړي تر څو د څارویو د روغتیا په برخه کې مرسته وشي. دغه راز، ۴۴۶ سیمه ایز وترنري مرکزونه او خصوصي تجارتي کلینیکونه د دوو کلونو به اوږدو کې ایجاد شوي چې کلیوالو تولنو ته د څارویو وقایوي روغتیایي خدمات او معالجوي خدمتونه عرضه کړي چې ۱.۱۲ ملیون ډالره خرڅلاو لري.

## کرهنیزو وسایلو ته د لاسرسي زمیني برابرول
افغان بزګر د با کیفیته تخمونو، سرو او وسایلو د پیرودلو په منظور پورونو ته ارتیا لري. د ۲۰۱۰ په جولای کې، USAID د ۱۰۰ ملیونو ډالرو په ارزښت یو صندوق جوړ کړ چې په سپتمبر کې یې پور ورکړه شروع کړه. دغه صندوق چې د کرهني وزرات او USAID لخوا په ګډه اداره کیږي تر اوسه پورې ۱۶ ملیونه ډالره پورونه ورکړي. مالي او غیري مالي بنستونه چې د صندوق څخه پیسې ترلاسه کوي بزګرو ته پور ورکوي څو کرهنیز وسایل وپیري. دغه د پور بنستونه تر اوسه پورې ۶ ملیونه ډالره پور ۵۴۰۰ بزګرو ته ورکړي.


Photo: USAID/AVIPA

په کابل ولایت کې سید آغا خیل د کښت پټې چې په نږدې راتلونکې کې به یې را ټولوي لیدنه کوي. د هغو تاکونو په خاطر چې سید آغا شبکه کړي، د هغه عواید ۵۰ سلنه لوړ شوي دي.

### د کرهني خلاصه
- ۹۸۵۰۰۰ بزګرو ته د اصلاح شویو کرهنیزو شیانو او تخمونو د اخیستلو لپاره مرسته
- د وترنرۍ د ۴۴۶ ساحوي واحدونو پرانیسته
- څارویو ته د ۲۶ ملیونو څخه زیاتو واکسینونو تطبیق
- ۶۳۳۰۰۰ څخه زیاتو نارینه او ښځو ته د ښه کرهني او سوداګرۍ مهارتونو زده کړه په FY ۲۰۱۰ کې
- د ۱۰۰ ملیون ډالرو به ارزښت د کرهنیز ودې د یو صندوق جوړول تر څو افغان بزګر او د پورونو موسساتو ته پور ورکړ شي

معلومات د جون ۲۰۱۱ څخه

# کرهنه (ادامه)



Photo: USAID/Afghanistan

یوه ښځه مرچک د وچولو لپاره ځای پرځای کوي (پورته). *USAID* د ښځو لپاره د کرهنیزو خدمتونو لومړی مرکز جوړ کړ چې په کرهنیز اقتصاد کې د ښځو د پراخ اشتراک زمینه برابره کړي.



Photo: USAID/Afghanistan

د کابل د ښځینه فارم د خدمتونو د مرکز کارکوونکي په یوه نوي نمایشگاه کې.

د ثبات په هڅو کې، USAID غواړي چې د اسنادو یو سیستم جوړ کړي څو هغه بزګر چې په شرایطو برابر وي وکولای شي چې په سیمه ایزو بازارونو کې تخم، سره او نور شیان په تخفیف شویو بیو وپیري.

د USAID په ملاتړ په افغانستان کې د کرهنیزو خدمتونو مرکزونه فعالیت کوي. دغه مرکزونه اصلاح شوي تخمونه، سرې او نور وسایل برابروي او دغه راز د تخنیکی معلوماتو او بازارونو ته د لاسرسی د مرکزونو په حیث کار کوي. دغه مرکزونه د ۳۲ ملیون ډالرو په ارزښت خرڅلاو درلودلي.

د جون ۲۰۱۰ څخه را پدېخوا ۷۰ د افغانانو او کرهنیز ډیپوګانې جوړ شوي چې د متحده ایالاتو د حکومت لخوا جوړ شوي ډیپو ګانو تعداد یې ۳۷۰ ته لوړه کړه. دغه فارمونه بزګرو ته د تولیدي شیانو، مډرن تکنالوژۍ او کرهنیزو خدمتونو لاسرسۍ لپاره یو مهم رول لوبولی.

## د ښځو لپاره د عایداتو زیاتوالی

د USAID پرمختیایی کارونه چې ښځې په کې شاملې دي عبارت دي د لبنیاتو پروسس او د چرګانو تولیدات، قوریې، ګلخانې او د سوداګرۍ د زده کړې پروګرامونه. د دې لپاره چې بزګر با کیفیته کرهنیز وسایل او ماشینونو ته لاسرسی ولري، USAID د ښځو لومړنی خدماتي مرکز سره په ۲۰۱۰ کې مرسته وکړه چې ۱۰۰۰۰ هغو ښځو ته چې د کابل شاوخوا ولایتونو کې په کرهنیز سکټور کې کار کوي خدمتونه عرضه کړي. د ۲۰۱۰ مالي کال د ختم نه مخکې، دوه نور د ښځو فارمي مرکزونه به د پروان او بلخ په ولایتونو کې پرانستل شي.

## چاپیریال ساتنه

د چاپیریال تنزل د تولیداتو د کمښت یو مهم سبب دی. د اوبو د بهیرونو او د افغانستان د چاپیریال ساتنه د اوبو د ذخیرو په زیاتوالي چې کرهنې لپاره دی او د سولې په ټینګښت کې خورا مهم رول لري. د USAID اداره د ونو کینولو، د اوبو بهتر تنظیم، د خاورې د خرابوالي کمښت، د اوبو د ساتلو زیاتوالی، او د طبیعي سیمو په ساتنه کې مرسته کوي څکه چې دا ټول د پټیو او شنو سیمو په تولید کې مرسته کوي او د کمو منابعو پر سر شخړې کموي.

## بنسټیزه پراختیا

د USAID اداره د افغاني پوهنتونونو او وزارتونو، کرهنیز او د وترنرۍ ښوونځیو، د امریکا د ځمکې پیژندنې پوهنتونونو او د امریکا د کرهنې وزارت ترمنځ اړیکې پیاوړي کوي. دغه راز USAID مرسته کړېده څو د پوهنتون په سطح د کرهنې زده کړې په افغانستان کې پیاوړي شي. د امریکا د کرهنې وزارت سره په ګډه، USAID د افغانستان د کرهنې وزارت ظرفیت لوړوي تر څو د کرهنیزو څېړنو او خدمتونو په واسطه بزګرو سره مرسته وکړي ترڅو بزګر او سوداګر وکولای شي چې خپل تولیدات په محلي او باندني بازارونو کې وپلوري.


د تماس معلومات

USAID/کابل
د کابل ځای ۶۱۸۰
Dulles, VA 20189-6180
(202) 216-6288 x4454
0093 (0) 700-234-233
http://afghanistan.usaid.gov
kabulaidinformation@usaid.gov